# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

(خبرپاڼه)

ګڼه: ۱۳

نېټه: ۱۴۰۳/۱۲/۲۵



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي او د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


۱- د سندس ټوکر جوړولو فابريکې څخه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ليدنه

۲- په ۱۴۰۳ کال کې ملي تدارکاتو کمېسيون ۲۵۲ پروژې منظورې کړې

۲- په ۱۴۰۳ کال کې د اقتصادي معاونيت رهبرۍ د کوچني او ستر مقياس کان کيندنې او استخراج ګنې پروژې منظورې کړې

## د سندس ټوکر جوړولو فابريکې څخه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ليدنه



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کب په ١٩ مه نېټه کندهار ته په خپل سفر کې د سندس ټوکر جوړولو فابريکې له چارو څخه ليدنه وکړه.

د يادې فابريکې ساختماني چارې تر ډېره بشپړې شوې او د روان ميلادي کال تر پايه به ګټې اخيستنې ته وسپارل شي. په دې فابريکه کې شاوخوا څلور مليارده افغانۍ پانګونه کېږي. د فابريکې له ګټې اخيستنې سره به شاوخوا زرو هېوادوالو ته د کار زمينه برابره شي.

د سندس ټوکر جوړولو فابريکه کولی شي په ٢٤ ساعتونو کې ٥٠ زره متره ټوکر توليد او ١٠٠ زره متره ټوکر رنګ کړي چې دا کچه به د فابريکې د دويم فاز له جوړېدو سره نوره هم لوړه شي.

د دغه فابريکې مسوولينو ويلي، په دغه فابريکه کې جوړېدونکی ټوکر به وکولی شي چې تر ډېره د هېوادوالو اړتياوې پوره کړي او اضافي توليدات به يې د مرکزي اسيا هېوادونو ته هم صادر شي.

د سندس ټوکر جوړولو فابريکه د کندهار ښار عينو مېنه کې په ٦٠ جريبه ځمکه جوړېږي.

افغانستان کې له سرتاسري امنيت راتلو وروسته په بېلابېلو سکتورونو کې د پانګونې زمينه برابره شوې ده. ګڼو کورنيو او بهرنيو پانګوالو په هېواد کې پانګونه کړې ده چې له امله يې افغانستان په ځينو برخو کې ځان بسياينې ته رسېدلی دی او اسلامي امارت هڅه کوي چې د ډېرو اسانتياوو په برابرولو سره په نورو ډېرو برخو کې هم هېواد ځان بسياينې ته ورسوي.

د ټوکر برخه کې د يادې فابريکې د فعاليت په پيلېدو سره به پر بهرنيو هېوادونو د افغانستان تکيه راکمه کړي او په کور دننه به لوړ کيفيت لرونکی ټوکر ولرو.

## په ١٤٠٣ کال کې ملي تدارکاتو کمېسيون ٢٥٢ پروژې منظورې کړې



هېوادوالو ته د کال په وروستيو کې د خپلو فعاليتونو راپور ورکول ډېر مهم کار دی. په دې سره به هېوادوال پوه شي چې مسوولينو د هېواد د اقتصادي وضعيت د ښه کېدو له پاره کوم ګامونه پورته کړي دي.

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت په چوکاټ کې د ملي تدارکاتو کمېسيون يو مهم کمېسيون دی چې يوه دنده يې د هېواد له پاره په بېلابېلو سکتورونو کې د پروژو منظوري ده.

د یاد کمېسیون مشري د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په غاړه ده.
یاد کمېسیون په ۱۴۰۳ کال کې ۲۵۲ پروژې منظور کړې دي چې ټول لګښت یې شاوخوا ۷۴ میلیارد افغانۍ دی. منظور شوې پروژې د زېربنا، ترانسپورټ، روغتیا، مخابراتو، اوبو مدیریت، صنعت او پوهنې سکټورونو کې دي چې په بېلابېلو ولایتونو کې پلې شوې دي.
د یادو ۲۵۲ پروژو تمویلوونکی د افغانستان اسلامي امارت دی. د منظور شویو پروژو له امله زرګونو هېوادوالو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده.

# په ۱۴۰۳ کال کې د اقتصادي معاونیت رهبرۍ د کوچني او ستر مقیاس کان کیندنې او استخراج ګټې پروژې منظورې کړې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت رهبرۍ له لوري په ۱۴۰۳ کال کې د کوچني او لوی مقیاس کان کیندنې او استخراج ګټې پروژې منظورې شوې دي.
په دغو پروژو کې په بېلابېلو ولایتونو کې د کوچني مقیاس ۲۵ پروژې شاملې دي. د بېلګې په ډول، د غور د تولک ولسوالۍ د تراورټین ډبرو پروژه، د هرات د چشت شریف ولسوالۍ د مرمر ډبرو پروژه، د بامیان د یکاولنګ ولسوالۍ د سرب او جستو د دوه بلاکونو پروژې، د ارزګان د خاص ارزګان ولسوالۍ د مرمر ډبرو دویم بلاک پروژه، د سمنګان د مرکز د چونې ډبرو د لومړي بلاک پروژه، د ننګرهار په ځینو ولسوالیو کې د مرمر ډبرو پروژې او د کابل ولایت د مرمر ډبرو پروژو په ګډون په نورو ولایتونو کې ګټې پروژې شاملې دي.
دغه راز، په ۱۴۰۳ کال کې د لوی مقیاس کانونو ۱۱ پروژې منظور شوي دي. د جوزجان د یتیم تاق سیمنټو پروژه، د فاریاب د مالګې کان پروژه، د کندهار د شاه ولي کوټ د مرمر ډبرو پروژه، د لوګر التمور سیمنټو پروژه او د فاریاب د طوطي میدان ګازو د استخراج پروژې په ګډون د نورو ولایتونو ګټې د کان کیندنې او استخراج پروژې شاملې دي.
د اسلامي امارت له راتګ سره په هېواد کې په خپلسري ډول د کانونو ایستل بند شوي دي او د کانونو او ځمکې لاندې نورو معدني موادو د ایستلو له پاره قانوني پروسې ترسره کېږي.
په یادو پروژو کې ځینې یې د بهرنیو پانګوالو له لوري استخراجیږي او ځینې یې کورني پانګوال استخراجوي.
د پروژو د قراردادونو د ورکړې په پروسه کې شفافیت تأمین شوی او د هېواد ملي ګټې په کې په نظر کې نیول شوې دي.
اسلامي امارت په هېواد کې اقتصادي ودې او د بېکارۍ کچې کمولو ته ژمن دی. د کوچني او لوی مقیاس کانونو د چارو له پیل سره ګنو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

